دافغانستان اسلامی جمهوریت
د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون

جمهوری اسلامی افغانستان
کميسيون شکايات انتخاباتی

Islamic Republic of Afghanistan
Electoral Complaints Commission

---

# مطبوعاتی خبرتيا

## د اعتراضونو د پروسی پريکړی د انتخاباتی شکايتونو کميسيون د ويبپاڼی له لاری لاس ته راوړلی شی

**د چنګاښ ۲۳، ۱۳۸۸**

د انتخاباتی شکايتونو کميسيون د هغو اعتراضونو په اړه چی د غويي ۲۶ او جوزا د ۳می نيټو په مينځ کی درج شوی وو رسمی پريکړی اعلان کړی.

په ۱۹ د جوزا د سه شنبی په ورځ، د انتخاباتی شکايتونو کميسيون د ټولټاکنو خپلواک کميسيون ته دوه د ولسمشری، يو د مرستيال ولسمشری او ۵۳ د ولايتی شوری د کانديدانو نومونه ورکړل چی د کانديديدو وړتياوی يی نه وی پوره کړی.دغه ۵۶ کسان د راتلونکی انتخاباتو لپاره د کانديدانو له لست څخه وويستل شول.

د انتخاباتی شکايتونو کميسيون د اعتراضونو په مرحله کی ټول ۳۰۲ شکايتونه ترلاسه کړل.په بعضی قضيو کی يو ځای د ډيرو قضيو لپاره يواځی يوه پريکړه صادره او خپره شوی وه. د ټولو ۳۴ اعتراضونو د حل اړوند ۱۷ پريکړی د انتخاباتی شکايتونو کميسيون په ويبپاڼه په پښتو او دری دواړه ژبو خپاره شوی.

www.ecc.org.af. نوری پريکړی به هم په پرله پسی توګه خبری شی.

د انتخاباتی شکايتونو کميسيون چی څنګه د شکايتونو اړوند پريکړی ترلاسه کړی نو خپرول به يی پيل کړی.

**د نورو معلوماتو لپاره، مهربانی وکړی اړيکی ونيسی:**

احمد مسلم خرم

ahmad.muslem@ecc.org.af

+93 (0) 798188605